مُردے کی بے بسی (پشتو)

# د مړي بې وسي




شَیخِ طَرِیقَت، اَمِیرِ اَھلِسُنَّت، بانیٔ دعوتِ اِسلامي، حَضرَت علّامه مولانا ابو بِلال

**مُحَمَّد اِلیاس عَطّار قادِري رَضَوي**

دامت برکاتهم العالیة

# د مړي بې وَسي

د شيخِ طريقت اَميرِ اَهلِسُنّت، بانئ دعوتِ اِسلامي **حضرت علّامه، مَولانا، ابُو بِلال محمّد اِلياس عطّار قادِري، رَضَوي** دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه دا رِساله ''مردے کی بے بسی'' په اردو ژبه کښې وه.

مجلسِ تراجِم (دعوتِ اسلامي) د دې رسالې په آسانه پښتو ژبه کښې د وَس مناسب د ترجَمَه کولو کوشش کړې دې. که چرې په دې ترجَمَه کښې څه غَلَطي يا کمي، زياتي اوموموئ نو ستاسو په خدمت کښې عرض دې چه مجلس تراجم ته خبر اوکړئ او د ثواب حقدار جوړ شئ.

## پيشکش: مجلسِ تراجِم دعوتِ اِسلامي


برائے رابطہ:

عالَمی مَدَنی مرکز فیضانِ مدینه محله سوداگران

پرانی سبزی منڈی، بابُ المَدینه کراچی، پاکستان

UAN: ☎ +92-21-111-25-26-92 – Ext. 1262

Email: translation@dawateislami.net


www.dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

# د مَړي بې وسي[1]

شیطان که هرخومره ناراستی دروَلي خو دا رساله مکمله اولولئ
اِنْ شَآءَاللهعَزَّوَجَلَّ تاسو به په خپل زړه کښې مَدَني اِنقِلاب محسوس کړئ.

## دَ دُرُودشريف فضيلت

حضورِ انور صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلي دي: "په ما باندې د دُرُود شريف لوستلو په ذريعه خپل مجلسونه ښائسته کړئ، ځکه چه ستاسو دُرُودِ پاك لوستل به په ورځ د قِيامَت ستاسو د پاره نُور وي." (الفِردَوس بمأثورِ الخطاب ج٢ ص ٢٩١ حديث ٣٣٣٠)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## مَړي او غُسل ورکوونکي

د زبردست عالِم و مُحَدِّث او مشهور تابِعي بُزُرگ حضرتِ سَيِّدُنا سُفيان ثَوري رَحْمَةُاللهِتَعَالٰى عَلَيْه نه روايت دې چه مړې په هر څه پوهيږي، تر دې چه غُسل ورکوونکي ته وائي: ستا دِ په خدای قَسم وي، ته

[1] دا بيان اميرِ اهلسنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د تبليغِ قرآن و سُنَّت عالمگير غير سياسی تحريک دعوت اسلامی د دري ورځو بينُ الاقوامی اِجتماع کښې (11، 12، 13 شَعبانُ المُعَظّم سن 1423ھ) د اتوار په ورځ مدينةُ الاولياء ملتان کښې فرمائيلي وو. د ترميم سره ليکلي شوې په خدمت کښې حاضر دې.
(مجلِس مکتبةُ المَدينه)

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درودپاک لوستل هیر کړل هغه دَ جنّت لاره هیره کړه. (طَبَرَانِي)

په غُسل کښې زما سره نرمي اوکړه او چه کله هغه د جنازې په کټ وي، نو هغه ته اووئیل شي: ”په خپله باره کښې د خلقو خبرې واوره.“ (شرح الصدور ص ۹۵)

## مَړي څه وائي؟

اَمِیرُ المُؤمِنین حضرتِ سَیِّدُنا عُمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡهُ روایت کوي، د نَبِیِّ کَریم، رَءُوفٌ رَّحِیم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د عِبرَت نه ډك فرمانِ دې: مَړې چه کله په تخته کیښودې شي او هغه ئې صرف درې قدمه مخکښې وړې وي هغه خبرې کوي او د هغه خبرې د انسانانو او پیریانو نه علاوه الله تَعالیٰ چه چا له غواړي [هغه ته] اوروي. مَړې وائي: اے زما وروڼړو! او اے زما جنازه اوچتوونکو! تاسو دُنیا په دوکه کښې وا نه چوي څنګه چه ئې زه [په دوکه کښې] اچولې ووم او زَمانه دِ ستاسو سره لوبې اونه کړي څنګه چه ئې زه لوبَولې ووم، ما چه څه کټلې وو هغه مې د خپلو وارثانو د پاره پریښودل او الله عَزَّوَجَلَّ به د قِیامَت په ورځ زما نه حساب اخلي او ما به نیسي، حالانکه تاسو ما رُخصَتوئ او ما یادوئ (یعني په ما پسې ژاړئ). (شرحُ الصُّدور ص ۹۶، کتابُ القُبور مع موسوعة اِبنِ اَبِی الدُّنیا ج ۶ ص ۶۱ حدیث ۲۵)

جتنے دنیا سکندر تھا چلا
جب گیا دنیا سے خالی ہاتھ تھا

**د شعر ترجمه:** سکندر د ټولې دُنیا د ګټلو د پاره وتلې وو خو چه کله د دنیا نه تللو نو تش لاسونه لاړو.

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما باندې دُرُودِ پاک او نه لوستو تحقیق هغه بدبخته شو. (اِبنِ سنی)

# د ټول عمر منده ترړه

خوږو خوږو اسلامي وروڼړو: هغه به څومره د بې وسئ وخت وي چه د بدن نه ساه ختلې وي، بيا هغه وخت به بنده څومره بې وسه وي چه د بدن نه ئې قِيمتي جامې وِيستلې شي، او بيا د غُسل ورکولو په وخت او د کَفَن ور اغوستلو په وخت به هغه څومره بې وسه وي، او بيا چه کله د هغه جنازه اوچتولې شي نو څومره د افسوس وخت به وي، **هائے!** هغه دُنيا چه د هغې د ښائسته کولو د پاره ئې ټول عمر منډې ترړې وهلې وې، چه د هغې د پاره ئې د شپې خوبونه قُربان کړي وو، قِسماقِسم خطرې په سر اخستې وې، حسد کوونکو د ده د لارې بندولو کوششونه کولو خو ده د هغې باوُجود د هغوئې سره مقابله کړې وه او د دُنيا مال ئې ګټلې وو، ښه ډير دولت ئې جمع کړې وو، آه! کوم کور ئې چه ښه مضبوط جوړ کړې وو او بيا ئې په هغې کښې قِسما قِسم ښکلې ښکلې فرنيچر لګولې وو، هغه هرڅه به ترې پاتې وي او دې به رُخصَتيږي. آه! قيمتي جامې به ئې هَينګر [ يعني موګې] ته زوړندې پاتې شي، که موټر ئې لرلو نو هغه به هم په ګيراج کښې ولاړ پاتې شي، د لوبو سامان، د عيش و عشرت سامانونه او د هر قِسمه مال او اسباب به ترې په ځائ پاتې شي، او هغه وخت خو به د مړي بې وَسي اِنتِها [يعني آخري حد] ته اورسيږي چه کله د هغه

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې دَ دُرود شريف کثرت کوئ بيشکه دا ستاسو د پاره پاکي ده. (اَبُو يَعلیٰ)

قدردان خپل خپلوان د هغه جنازه په اوګو واخلي او د دې عارِضي خوشحالو د بې وَفا دُنيا په رنړاګانو ځليدونکي فاني کور نه ئې اوباسي او د تيَرو نه ډك قبر کښې د خخولو د پاره مقبرې [يعني اِديرې] ته روان شي.

عالم ا نقلا ب ہے دُ نيا چند لمحوں کا خواب ہے دُ نيا
فخر کيوں دل لگائیں اِس سے نہیں ا چّھی، خراب ہے دُ نيا

**د شعر ترجمه:** (۱) د دُنيا حالات ډير زر زر بدليږي، دا دُنيا بس د لږ ساعت خوب ليدل دي.(۲) اے فخرا! د دې سره زړه لګول نه دي پکار، ځکه چه دا دُنيا ښه نه ده خرابه ده!

## د قبر زړه درزوُونکي قِصّه

**حضرت** سَيِّدُنا عُمَر بِن عبدُالعزيزرَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ د يوې جنازې سره مقبرې ته تشريف يوړَلو، هلته د يو قبر خوا ته کښيناستلو او په سوچ کښې ډوب شو، يو کس ورته عرض اوکړو: يا اَمِيرَ الْمُؤمِنِين! تاسو رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ دلته يواځې ولې ناست ئې؟ اوئې فرمائيل: اوس اوس يو قبر ما ته غږ اوکړو او اوئې وئيل: اے عُمر بن عبد العزيز (رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ)! زما نه ولې تپوس نه کوې چه څوك زما غيږې ته راشي زه د هغه سره څه سلوك کووم؟ ما هغه قبر ته اووئيل: ما ته ضرور اووايه. هغه [قبر] اووئيل: کله چه په ما کښې څوك خخ کړې

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په كتاب كښې په ما باندې درود پاك اوليكلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې كښې وي فرښتې به د هغه د پاره بخښنه غواړي. (طبرانی)

شي نو زه د هغه كفن اوشلوم او بدن ئې ټكړې ټكړې كړم او د هغه غوښې اوخورم. آيا تاسو به زما نه دا تپوس نه كوئ چه زه د هغه د جوړونو سره څه كووم؟ ما اووئيل: دا هم راته اووايه. نو هغه [قبر] اووئيل: "لاسونه ئې د مړوَندونو نه جُدا كووم، زنګونان ئې د پنډو نه او پنډئ ئې د ښپو نه جُدا كووم." د دې وئيلو نه پس حضرتِ سَيِّدُنا عُمر بِن عبدالعزيز رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ په سلګو سلګو اوژړل، بيا ئې چه حالت لږ صحيح شو نو څه داسې د عِبرَت "مدني ګلونه" ئې وراندې كړل: اے اسلامي ورونړو! په دې دُنيا كښې زمونږه اوسيدل د ډير لږ وخت د پاره دي، څوك چه په دې دُنيا كښې د اِقتِدار خاوند دې هغه به په (آخرت كښې) ډير زيات ذليله او خوار وي، څوك چه په دې دُنيا كښې مالدار دې هغه به (په آخِرت كښې) فقير وي. د دې [دُنيا] ځوانان به بُوډاګان شي او څوك چه ژوندي دي هغه به مړه شي. دَ دُنيا [يعني د مال دولت] ستاسو طرف ته راتلَل تاسو دوكه نه كړي، ځكه چه تاسو ته معلومه ده چه دا ډيره زر رُخصتيدونكې ده. څه شُو د قرآن مجيد تلاوت كوونكي؟ څه شُو د بيتُ الله حج كوونكي؟ څه شُو د رَمَضانُ المُبارك روژې نيولو والا؟ خاورو د هغوئې د بدنونو سره څه اوكړل؟ د قبر چينجو د هغوئې د غوښو څه انجام اوكړو؟ د هغوئې د هډوكو او جوړونو سره څه سلوك اوشو؟ قَسم په خدائے!

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک او نه لوستو هغه په خلقو کښې ډېر زيات کنجُوس(يعني شوم) دې. (اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب)

کوم (بې عمله) [خلق] چه به په دُنيا کښې په نرمو نرمو بِسترو پراته وو اوس هغوئي د آرام او سکون نه پس د خپل کور او وطن نه لرې په تنګئ کښې دي، د هغوئي اولاد په کوڅو کښې خوار و زار ګرځي ځکه چه د هغوئي کونډو [ښځو] بيا نکاح ګانې اوکړې او خپل کورونه ئې آباد کړل، د هغوئي خپلوانو د هغوئي په کورونو قبضه اوکړه او د هغوئي ميراث ئې په خپل مينځ کښې تقسيم کړو. وَاللّٰه! په هغوئي کښې ځينې خوش نصيبه هم دي چه په قبرونو کښې مزې کوي او ځينې داسې هم دي چه په عذابِ قبر کښې ګير دي.

افسوس په کروړونو افسوس! اے نادانه! نن چه ته [د هغوئي] د مرګ په وخت کښې کله د خپل پلار، کله د خپل ځوئ او کله د خپل سَکه ورور سترګې بندوې، په هغوئي کښې چا ته غسل ورکوې، چا ته کفن اَغوندې، د چا جنازه په اوګو کوې او ځوك د قبر په تنګه او توره تيَره کنده کښې خخوې، (ياد ساته! صبا دا هر څه ستا سره هم کيدو والا دي) [بيا ئې اوفرمائيل]، کاش! چه "زه خبر وې چه (په قبر کښې به) اول زما کوم يو رُخسار [يعني د مخ کوم طرف] سخا کيږي" بيا حضرت سَيِّدُنا عمر بن عبدُ العزيز رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ په ژړا شو او په ژړا ژړا کښې بې هوشه شو او يوه هفته پس ئې د دې دُنيا نه سفر اوکړو [يعني وفات شو]. (اَلرَّوضُ الفَائق ص ۱۰۷ مُلَخَّصاً)

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: خوك چه په ما د جُمُعې په ورځ درود شريف لولي زه به د قِيامت په ورځ د هغه شفاعت كووم. (كنز العمال)

حُجَّةُ الاسلام حضرت سَيِّدُنا اِمام محمّد غزالي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه په "اِحياءُ العُلوم" كښې نقل كوي: د وَفات په وخت كښې د حضرتِ سَيّدُنا عمر بن عبد العزيز رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ په ژبه دا آيتِ كريمه جاري وو:

تِلْكَ الدَّارُ الْاٰخِرَةُ نَجْعَلُهَا لِلَّذِيْنَ لَا يُرِيْدُوْنَ عُلُوًّا فِي الْاَرْضِ وَ لَا فَسَادًا ؕ وَ الْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِيْنَ ﴿۸۳﴾

(پ۲۰ القصص:۸۳)

مفهوم ترجمهٔ كنزُالاِيمان: دا د آخِرت كور مونږ د هغوئي د پاره ګرځوو خوك چه په زمكه تَكَبُّر نه غواړي او نه فساد، او عاقِبت [يعني ښه انجام] د پرهيزګارانو د پاره دې.

(اِحياءُ العُلوم ج۵ ص۲۳۰)

## شاهي مرګ

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! د حضرتِ سَيِّدُنا عمر بِن عبدُ العزيز رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ دا ژړوونكې **حِكايت** د عقل مندو د پاره د عِبرت كوره ده. د **شاهي مرګ** يوه بله واقعه واورئ، چنانچه حُجَّةُ الاِسلام حضرت سَيِّدُنا امام محمّد غزالي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه په "اِحياءُ العُلوم" كښې فرمائي: بالكل د ځنكدن په وخت كښې چا د خليفه عبدُالمَلِك بِن مَروان نه تپوس اوكړو: په دې وخت تاسو خپل حالت څنګه محسوسوئ؟ جواب ئې وركړو: بالكل داسې څنګه چه د قرآنِ مجيد په ووه مه سيپاره كښې په سُوْرَةُ الْاَنْعَام آيت نمبر۹۴ كښې الله عَزَّوَجَلَّ فرمائيلي دي چه:

فرمَانِ مُصطفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما يو ځل درود شريف اولوستو الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه لس رحمتونه نازل فرمائي. (مُسلِم)

وَ لَقَدۡ جِئۡتُمُوۡنَا فُرَادٰی کَمَا خَلَقۡنٰکُمۡ اَوَّلَ مَرَّۃٍ وَّ تَرَکۡتُمۡ مَّا خَوَّلۡنٰکُمۡ وَرَآءَ ظُہُوۡرِکُمۡ ۚ

(پ ۷، الانعام: ۹٤)

مفهوم ترجمهٔ کنزُ الايمان: او بيشکه ته زمونږه خوا ته يواځې راغلې څنګه چه مونږه ته اول ځل پيدا کړې وې او شاته دِ پريښودو هغه مال او اسباب کوم چه مونږه تا ته درکړې وو.

(اِحياءُ العُلوم ج ۵ ص ۲۳۰)

## بادشاهي په کار رانغله

حُجَّةُ الاسلام حضرت سَيِّدُنا امام محمّد غزالي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه په "اِحياءُ العُلوم" کښې فرمائي: د مشهور عبَّاسي خليفه هارون رشِيد رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه چه کله آخِري وخت راغي نو خپل کَفَن ئې په لاسو کښې اړوو را اړوو او بيا بيا ئې په پښيمانتيا سره کتلو او د سيپاره ۲۹ سُوۡرَۃُ الۡحَآقَّہ دا آيتونه ئې لوستل:

مَاۤ اَغۡنٰی عَنِّیۡ مَالِیَہۡ ﴿ۚ۲۸﴾ هَلَکَ عَنِّیۡ سُلۡطٰنِیَہۡ ﴿ۚ۲۹﴾

مفهوم ترجمهٔ کنزُ الايمان: زما هيڅ په کار رانغلو زما مال، زما ټول زور ختم شو.

(اِحياءُ العُلوم ج ۵ ص ۲۳۱)

## دُنيا ته د راتلو مقصد

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! حقيقت دا دې چه مونږه دې دُنيا ته راغلو نو په سخت ازميښت کښې اخته شو، زمونږ د راتلو مقصد

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندي د جُمُعې په ورځ 200 ځله دُرُود شريف اولوستل د هغه د دوو سوو کالو ګناهونه به معاف شي. (کَنزُالْعُمَّال)

څه بل وو او شايد مونږه څه بل [مقصد] اوګڼړلو! زمونږ د ژوند تيرولو طريقو نه دا معلوميږي چه **مَعَاذَ الله** مونږ به ګڼي هډو مرو نه، **ياد ساتئ!** مونږ به دلته هميشه نه اوسيږو، دې دُنيا ته د راتلو مقصد صِرف مال ګټل يا صِرف د دُنياوي تعليمونو او فَنونو ډګرۍ حاصلول او صِرف دُنياوي ترقي کول نه دي. د سيپاره ۱۸ **سُوْرَةُ الْمُؤْمِنُوْن** په آيت ۱۱۵ کښې ارشاد کيږي:

اَفَحَسِبْتُمْ اَنَّمَا خَلَقْنٰكُمْ عَبَثًا وَّاَنَّكُمْ اِلَيْنَا لَا تُرْجَعُوْنَ ﴿۱۱۵﴾

مفهوم ترجمهٔ کنزُ الايمان: نو آيا تاسو دا ګڼړئ چه مونږه تاسو بيکاره پيدا کړي ئي او تاسو به زمونږ طرف ته نه راګرځئ.

ياد رکھ ہر آن آخر موت ہے ... بن تُو مت انجان آخر موت ہے
مرتے جاتے ہیں ہزاروں آدمی ... عاقل و نادان آخر موت ہے
کیاخوشی ہو دل کو چندے زِیست سے ... غمزدہ ہے جان آخر موت ہے
ملکِ فانی میں فنا ہر شَے کو ہے ... سن لگا کر کان آخر موت ہے
بارہا علمیؔ تجھے سمجھا چکے
مان یا مت مان آخر موت ہے

هر وخت ياد ساته چه آخِر مرګ دي ... مه جوريږه بې پروا چه آخِر مرګ دي
مري ورځ او شپه په زرګاؤ انسانان ... عقلمند او هُم ساده چه آخِر مرګ دي
څه به شُو خوشحاله په دي لږ ژوند ... زړه مي دي خفه چه آخِر مرګ دي
هر شي به فنا شي د فاني دُنيا ... په ډير غور واوره چه آخِر مرګ دي
خو ځله مي پوهه کړي ته اے عِلميؔ ... که مني او که نه خو آخِر مرګ دي

فرمانِ مُصطَفٰےﷺ: چا چه په ما باندې يو ځل دُرُود شريف اولوستو اللهعَزَّوَجَلَّ به په هغه باندې لس رَحمتونه را ليږي او د هغه په اعمال نامه کښ به لس نيکئ ليکي. (تِرمِذی)

# وزارتونه به په کار رانه شي

الله تَعالٰی انسان د خپل عِبادت د پاره پيدا کړې دې، که چرې هغه د خپل ژوند په دې مقصد کښ کاميابي حاصله نه کړه او په ورځ د مَحشَر د ګناهونو د انبار سره د خپل پروردګار عَزَّوَجَلَّ په دربار کښ پيش شو نو د الله عَزَّوَجَلَّ د ناراضئ په صورت کښ د دې دُنيا بيشميره دولتونه هم هغه د خپل رَبِّ قهّار عَزَّوَجَلَّ د قهر و غضب نه نه شي بچ کولې. د دُنياوي عُلومو او فنونو ډِګرئ، کارخانې، وسله، دُنياوي تَعلُّقات، مَنصَب [عُهده]، وزارتونه، دُنياوي سهولتونه، مشهورتيا او دُنياوي عِزَّتونه ئې د اللهعَزَّوَجَلَّ په بارګاه کښ نه شي کاميابَولې.

د اِقتدار [يعني حکومت] په نشه کښ مَست د يو بل عيبونه بيانولو والؤ ، دهشت ګردي کولو والؤ او د مسلمانانو حقونه وهلو والؤ د پاره د فِکر مقام دې چه که د نافرمانئ په وجه که الله عَزَّوَجَلَّ ناراضه شو، او د هغه خوږ حبيب صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خفه شو او اِيمان ئې برباد شو نو هُغه هُغه مشکلات به دريپښ شي چه کله به هم حل نه شي. اللهعَزَّوَجَلَّ په سيپاره ۳۰ سُوۡرَۃُ الۡھُمَزَہ کښ ارشاد فرمائي:

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

وَیۡلٌ لِّکُلِّ ہُمَزَۃٍ لُّمَزَۃِۣ ﴿۱﴾ الَّذِیۡ جَمَعَ مَالًا وَّ عَدَّدَہٗ ﴿۲﴾ یَحۡسَبُ

مفهوم ترجمهٔ کنزُ الايمان: د الله په نوم شروع کووم چه ډير مهربانه رحم کوونکې دې. خرابي ده د هغه د پاره چه د خلقو په مخکښ [د هغوئي] عيب بيانوي او د شا نه [يعني د هغوئي په غير موجودګئ

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: خوك چه په ما د جُمُعې په ورځ دُرُود شريف لولي زه به د قيامت په ورځ د هغه شفاعت كووم. (كنز العمال)

اَنَّ مَالَهٗۤ اَخْلَدَهٗ ۝۳ كَلَّا لَيُنْۢبَذَنَّ فِي الْحُطَمَةِ ۝۴ وَ مَآ اَدْرٰىكَ مَا الْحُطَمَةُ ۝۵ نَارُ اللّٰهِ الْمُوْقَدَةُ ۝۶ الَّتِيْ تَطَّلِعُ عَلَى الْاَفْـِٕدَةِ ۝۷ اِنَّهَا عَلَيْهِمْ مُّؤْصَدَةٌ ۝۸ فِيْ عَمَدٍ مُّمَدَّدَةٍ ۝۹

كښې د هغوئي] بَدي بيانوي، چا چه مال جمع كړو او په شمير ئي كېنبودو، آيا هغه دا ګمان كوي چه د هغه مال به هغه په دُنيا كښې هميشه اوساتي، هيڅ كله هم نه، ضرور هغه به چيتولو والا [اور] ته اوغورزولې شي،او تا ته څه معلومه ده چه چيتولو والا څه [څيز دې]، د الله (عَزَّوَجَلَّ) اور چه لمبې وهي، هغه چه راتاؤ به شي د زړونو نه، بيشكه هغه به په هغوئي بند كړې شي، په اوچتو اوچتو ستَنو كښې.

## خلور بې بُنياده دعوې

**حضرتِ سَيِّدُنا شَقِيق بَلخي** رَحْمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: "خلق د څلورو څيزونو دعوٰی كوي خو د هغوئي عمل د دعوې خلاف دې، (1) د هغوئي زباني وينا خو دا ده چه مونږه د **الله** عَزَّوَجَلَّ بندګان يو خو د هغوئي عمل د آزادو خلقو په شان دې (2) هغوئي وائي چه هُم **الله** عَزَّوَجَلَّ زمونږه د رِزق كفيل [يعني ذِمه وار] دې خو هغوئي د ډېر مال و دولت جمع كولو نه پس هم نه مطمئِن كيږي (3) هغوئي وائي چه د دُنيا نه آخِرت غوره دې خو هغوئي صِرف د دُنيا د بِهترئ په كوشش كښې دي(4) او وائي چه مونږ به يوه ورځ ضرور مره كيږو خو د ژوند اندازئي داسې دې لكه هډو به چه مره كيږي نه." (عُيُونُ الحِكايات ص۷۵)

## اولنۍ دعوىٰ ”زه د الله (عَزَّوَجَلَّ) بنده يم“

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! واقعی د غور مقام دې يقيناً هر مسلمان دا اِقرار كوي چه ”زه د الله (عَزَّوَجَلَّ) بنده يم“، او ښكاره خبره ده چه بنده ”پابند“ وي، خو نن صبا د اكثرو خلقو كارونه د ازادو خلقو په شان دي. اوګورئ! څوك چه د چا نوكر وي هغه صرف د هغه د خوښې مطابق كار كوي، يقيناً مونږه د اللهتَعالٰی بندګان يو او د هغه رزق خورو، خو افسوس زمونږ كارونه د كامِل بندګانو په شان نه دي، د هغه حُكم دې چه مونځ كوئ، خو مونږ سُستي كوو، د رَمَضان د روژو حُكم دې، خو د مسلمانانو يو كښږ شمير روژې نه نيسي. هُم دغسې د اللّٰه تَعَالٰی په نورو حكمونو عمل كولو كښې هم سخته كوتاهي كيږي.

## دويمه دعوىٰ ”هُم الله تَعالٰی رِزق وركوونكې دې“

بيشكه ”هم الله عَزَّوَجَلَّ د رِزق كفيل دې“ خو بيا هم د رِزق حاصلولو انداز ډير عجيبه دې. الله عَزَّوَجَلَّ رَزَّاق او روزي وركوونكې مني خو د دې باوُجود معلومه نه ده چه ولې خلق د سُود لَين دَين [يعني وركول اغِستل] كوي، په سود قرضې اخلي او فيكټرۍ چلوي او كورونه جوړوي! چه اللّٰه تَعَالٰی مو روزي وركوونكې اومنلو نو اوس مو كومه خبره په رِشوت اخِستلو مجبورَوي؟ آخِرڅه وجه ده چه د ملاوټ والا مال په

ټکئ خرڅول شي؟ څه وجه ده چه د غلا او لوټ مار سلسله جاري ده؟ د روزئ دا حرامې ذريعې مو ولې اختيار کړې دي؟

## دريمه دعوىٰ "د دُنيا نه آخِرت غوره دې"

**بيشکه** "د دُنيا نه آخِرت غوره دې" دا دعوىٰ د لرلو باوُجود افسوس! انداز مو صِرف او صِرف د دُنيا د بهتر جوړولو والا دې، صِرف د دُنيا د دولت په راټولولو کښې مشغوله يو، د خلقو اکثريت د دُنيا په مال پسې ليونې دې او د ژوند تيرولو انداز ئې دا وائي چه ګني د دُنيا نه کله هدو تلل نشته.

## څلورمه دعوىٰ "يوه ورځ به مره کيږو"

**يقيناً** "مونږ به يوه ورځ مړه کيږو" دا خبره منو خو د دې باوُجود په کروړونو افسوس! د ژوند تيرولو انداز مو داسې دې لکه چه کله به هم نه مرو. اوګورئ! "**حضرتِ** سَيِّدُنا حَسن بَصري رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه په دې دعوىٰ چه "مونږ به يوه ورځ مړه کيږو" څومره پوخ عمل لرلو، د هغوئي د ژوند انداز دا وو چه هر وقت به داسې په يَره کښې اوسيدو لکه چا چه ورته د مرګ سزا اورولې وي." (اِحياءُ العُلوم ج٤ ص٢٣١ مُلَخَّصاً)

چه نن صبا ورته خلق "بليك وارنټ [يعني د مرګ وارنټ]" وائي. حالانکه د هر يو کس د مرګ وارنټ جاري شوې دې څکه چه څوک

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښ چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرُودِ پاک اونه وئيلو تحقيق هغه بدبخته شو. (ابن سنی)

پيدا شوې دې هغه به مړ کيږي هم، د هر ساه لرونکې څيز د پيدا کيدو نه مخکښ د هغه د مرګ فيصله شوي ده، او د پيدا کيدو نه مخکښ د هغه رزق او عمر مقرر کړې شوې دې بلکه د هغه د خخيدو ځائ هم مقرر شوې دې. د مور په ګيډه کښ د انساني بدن جوړولو د پاره فرښته د زمکې د هغه حصې نه خاوره راوړي په کوم ځائ کښ به چه دا بنده د عمر تيريدو او مړ کيدو نه پس خخيږي. واورئ! واورئ! بنده چه د خپلې حصې رزق ختمولو، او د ژوند تيرولو نه پس د خلقو په اوګو سور د جنازې په کټ کښ پروت وي، او مَقبرې ته وړلې شي په هغه وخت کښ هغه څه وائي: چنانچه

## د جنازې اِعلان

**سرکارِ مدينه** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: په هغه ذات مې دِ قَسم وي د چا په قبضهٔ قُدرت کښ چه زما ساه ده، که خلق د هغه (يعني د مړي) ځائ اووينې او د هغه خبرې واورې نو مړې به هير کړي او په خپلو ځانونو به ژاړي. چه کله مړې په تخته کيښودې شي او اوچت کړې شي نو د هغه روح په بې قرارئ په تخته کښينې او آواز کوي: "**اے زما د کور خلقو!** دُنيا دِ ستاسو سره داسې لوبې اونه کړي څنګه چه دې زما سره لوبې اوکړې، ما حلال او غيرِحلال مال جمع کړو او بيا مې هغه مال نورو ته پريښودو او ترې لا ړم. د هغې ګټه د

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې دَ جُمعې په ورځ 200 ځله دُرُود شریف اولوستل د هغه د دوو سوو کالو ګناهونه به معاف شي. (کَنزُالْعُمَّال)

هغوئي د پاره ده او د هغې نقصان زما د پاره [دې]، پس څه چه په ما تیر شوي دي د هغې نه اویریږئ.“(یعني عِبرت حاصل کړئ).
(اَلتَّذکِرةُللقُرطُبی ص ٦٩)

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د غور مقام دې! واقعی هره جنازه زبردست مُبَلِّغ دې، لکه مونږ ته چه په نعرو نعرو وائي: اے پاتي شوو خلقو! څنګه چه نن زه د دُنیا نه روان یم دغسې به تاسو هم ډیر زر د دې دُنیا نه روان شئ. یعني لکه جنازه چه مونږ ته لارښائي.

جنازہ آگے بڑھ کے کہہ رہا ہے اے جہاں والو!
مرے پیچھے چلے آؤ تمہارا رہنُما میں ہوں

د شعر ترجمه: جنازه مخکښې ده روانه وائي اے دُنیا والو
زه لارښودونکې یمه ستاسو، ما پسې ورروستو راځئ

## د مړو سره خبرې

په ”شَرحُ الصُّدور“ کښې دي، حضرتِ سَیِّدُنا سعید بن مُسَیَّب رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي: یو ځل مونږ د حضرتِ سَیِّدُنا عَلِي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ سره د مدینې منورې اِدیرې [یعني مَقبرې] ته لاړو. حضرتِ عَلِي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ په قبرونو والَو باندې سلام واچولو او اوئي فرمائيل: اے قبرونو والَؤ! تاسو به خپل خبر بیان کړئ، که مونږ ئې درته بیان کړو؟ حضرتِ سَیِّدُنا سعید بن مُسَیَّب رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي چه مونږه

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوک چه په ما باندې يو ځل دُرُود اولولي الله د هغه د پاره يو قِيراط اجر ليکي او قِيراط د اُحُد غر هُومره دې. (عَبدُالرَّزّاق)

د قبر نه د "وَعَلَيْکَ السَّلَامُ وَرَحْمَةُ اللهِ وبَرَکَاتُهٗ" آواز واوريدو او بيا يو [قبر والا] داسې اووئيل: "يا اَمِيرَ الْمُؤمِنين! هم تاسو خبر راکړئ چه زمونږ د مرګ نه پس څه اوشو؟" حضرت عَلِـي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُ اوفرمائيل: "واورئ! ستاسو مالونه تقسيم شو، ستاسو بيبيانو نور نکاحونه اوکړل، ستاسو اولاد په يتيمانو کښې شامِل شو، کوم کورونه چه تاسو ډير مضبوط جوړ کړي وو په هغې کښې ستاسو دُښمنان آباد شو." اوس تاسو خپل حال بيان کړئ! دا ئې چه اووئيل نو د يو قبر نه آواز راغې: "يااَمِيرَالْمُؤمِنِين! زمونږه کفنونه اوشليدل، ويښته مو اوختل او اوشيندل شو، زمونږه خرمني ټوټې ټوټې شوې، سترګې مو په مخ ښکته اوبهيدلې او د پوزو نه مو نَو روان دي او مونږ چه څه ليږلي وو (يعني څنګه عمل مو چه کړې وو) هغه را اورسيدو او څه چه را نه پاتې شوي وو په هغې کښې مو نقصان اوکړو." (شَرحُ الصُّدور ص ۲۰۹، اِبنِ عساکِر ج ۲۷ ص ۳۹۵)

## د ټي وی اخستو په وجه په مَړي د قبر عذاب

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! بنده دِ په دې هم غور اوکړي چه د "مرګ نه پس په ځان پسې څه پريږدي"، که په ځان پسې ئې ناجائزه کاروبار يا د جوارئ اډه يا د شرابو دُکان يا د سندرو او باجو سينټر يا د فِلمونو اِنډَسټري يا سنيما يا د ډرامو سينټر يا د ګناهونو

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د جُمُعې په شپه او د جُمُعې په ورځ په ما باندې د دُرُود کثرت کوئ، ځوك چه داسې کوي د قيامت په ورځ به زه د هغه شفاعت کوونکې او ګواه جوړېږم. (شُعَبُ الاِيمَان)

سامانونه وغيره پرېښودي وي او مړ شوې وي نو د دې انجام ډېر زيات لړزوونکې دې، يوه د عِبرت نه ډکه واقعه واورئ. چنانچه يو اسلامي ورور د برطانيه نه خط رالېږلې وو د هغې خلاصه په خپل انداز او الفاظو کښې د عرض کولو کوشش کووم: په بابُ الاسلام (سندھ) کښې د اوسېدونکې يو بُزُرګ وَينا ده چه يوه شپه زه په مَقبره کښې د عبرت حاصلولو د پاره د يو تازه قبر خوا ته کښېناستم، په ناسته ناسته مې سترګې پټې شوې [يعني اوده شوم] او د قبر حال را ته ښکاره شو څه وِينم چه د قبر والا د بدن نه اور چاپېره دې او په چغو چغو ماته وائي: "ما بچ کړه! ما بچ کړه!" ما ورته اووئيل: "زه دِ څنګه بچ کړم؟" هغه اووئيل: "زه لږې ورځې مخکښې مړ شوې يم، زما ځلمې ځوئ اوس په دې وخت په ټي. وی فلم ګوري، چه کله هم هغه داسې کوي په ما سخت عذاب شروع شي. د **خدائے** عَزَّوَجَلَّ د پاره زما ځلمې ځوئ پوهه کړئ چه په عيشونو کښې نه اخته کيږي، او **هغه دِ دا ټي وی نه ګوري ځکه چه دا ما اخستې وو او اوس د دې په وجه زه په عذاب کښې نښتې يم**، افسوس چه ما د خپل اولاد دُنياوي تربِيَّت خو کړې وو خو اسلامي تربِيَّت مې ئې نه وو کړې، هغوئې مې د ګناهونو نه نه وو منع کړې او د قبر او د آخِرت د مُعامَلاتو نه مې نه وو خبر کړې." د هغه قبر والا مړي را ته خپل نوم او پته هم

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کله چه تاسو په رسولانو دُرُود لولئ نو په ما باندې ئې هم لولئ، بیشکه زه د ټولو جهانونو د رب رسول یم. (جَمعُ الجَوامِع)

اوښودل، چنانچه زه سحر نِزدې کلي ته د مرحوم کور ته اورسیدم، هغه ځلمي د شپې په تې وی باندې د فِلَم کتلو اِقرار اوکړو، ما چه ورته خپل خوب واورولو نو هغه د غم نه په ژړا شو او د خپل کور نه تې وی لرې کړو.

## د آقا ﷺ زیرې

د یو میجر بیان دې، چه زه په هغه ورځو کښې په منګلا ډیم کښې پاتې کیدم، د "دِینه" (جِهلم) اسلامي ورونړو را ته د سُنَّتو نه د ډکو بیانونو څه کیستې په تحفه کښې راکړې. هغه کیستې ما په کور کښې اولګولې. په هغې کښې د بابُ الاسلام (سندھ) د بُزُرګ دا واقعه هم وه، چه مونږه واوریده نو د الله عَزَّوَجَلَّ د عذاب نه اویَرِیدو او د ټولو په اِتّفاق مو تې وی د کور نه لرې کړو. قَسم په خدائے! د کور نه د تې وی وِیستلو نه تقریباً یوه هفته پس زما د بچو د مور ته (په غیبو باندې خبردار) د خوږ مَدَني آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خوب کښې دیدار نصیب شو او خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد اوفرمائیلو: **مبارَك شه چه ستاسو د کور نه د تې وي ویستلو عمل د الله تَعالٰی په بارګاه کښې منظور شوې دې.**

دا د هغه وخت واقِعات دي چه **دعوتِ اسلامي** لا د زنانؤ او سندرو او سازونو وغیره نه پاك 100 فیصده اسلامي **"مَدَني چینل"** نه وو

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذکر اوشو او هغه په ما دُرُودِ پاک اونه وئيلو تحقيق هغه بدبخته شو. (ابن سنی)

شروع کړې، د "مَدَني چينل" نه علاوه په ټوله دُنيا کښې د دې لِيك د وخته پورې زما د معلوماتو مطابق تر اوسه بل يو هم صحيح شرعي چينل نشته. لِهٰذا بيان شوي دواړه واقعې د هغه دور په اعتبار سره بالکل صحيح دي چه هغه خلقو به د ګناهونو نه ډك پروګرامونه کتل. اوس هم په مختلفو چينلو باندې د ګناهونو نه ډك پروګرامونه کتونکو ته دا خواست دې چه هغوئي دِ د خپلو کورونو نه ټى وي لرې کړي او د هغې په ذريعه ئې چه کوم ګناهونه کړي دي د هغې نه دِ توبه هم اوکړي، خو که ضرور ئې ګورئ نو د دې د پاره داسې ترکيب جوړ کړئ چه ستاسو په ټى وى صِرف او صِرف **مَدَني چينل** چليږي. د تِلاوتِ قرآن، نعت شريف، د سُنّتو نه ډکو بيانونو او د رنګ رنګ مَدَني ګلونو په بَرَکت به اِنْ شَآءَاللّٰهعَزَّوَجَلَّ ستاسو کور د اَمن ځائ جوړ شي. د نورو چينلو د بندولو درې طريقې اوګورئ: **(1)** د مينول ټيوننګ په ذريعه د خپل مطلب مَدَني چينل په نورو ټولو چينلو باندې سَيټ کړئ **(2)** په ټي وي کښې د ورکړې شوي بلاك سِستم په ذريعه نورې چينلې بلاك [يعني بندې] کړئ **(3)** نن صبا په نوې ډيوائس کښې په مخصوصو چينلو پاس ورډ هم لګولې شي.

## بَهاني مه کوئ

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! اوس ګورئ چه کوم خوش نصيبه داسې دي چه يا د کور نه ټى وى لرې کړي او يا هغه صِرف **د مَدَني چينل**

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: كله چه تاسو په رسولانو دُرُود لولئ نو په ما باندې ئې هم لولئ، بيشكه زه د ټولو جهانونو د ربّ رسول يم. (جَمعُ الجَوامِع)

د پاره **مخصوص** كړي او **مَعَاذَالله** عَزَّوَجَلَّ څوك بدنصيبه داسي دې چه د ګناهونو نه د ډكو پروګرامونو سره په خپل كور كښې ټى وي پريږدي او مري او **الله** عَزَّوَجَلَّ دِ نه كړي، **الله** عَزَّوَجَلَّ دِ نه كړي، **الله** عَزَّوَجَلَّ دِ نه كړي [هغه] د قبر په عذاب كښې نښلي! شايد چه شيطان ستاسو په زړونو كښې وسوسې واچوي چه معلومه نه ده دا **دعوتِ اسلامي** والا د كوم كوم ځائ نه "واقعات" راوړي! او بيانوي! ټى وى خو د مَدَني چينل نه **مخكښې** هم د "فلاني فلاني" په كور كښې هم موجود وو، ګورئ! زما د مُطمئِن كولو د پاره دا دليل كافي نه دې. تاسو كه زما بيان كړي واقعات منئ او كه نه منئ خو څوك چه د **الله** عَزَّوَجَلَّ يره لري د هغوئي ضمير به په چغو چغو وائي چه دا [ټي وي] عام طور د ګناهونو ميټر ښه تيز تيز چلوي، د دې بې هوده پروګرامونو مُعاشره تباه كړه، د خلقو اخلاق ئې خراب كړل ، د دې ټي وي په ذريعه بې حيائي او بې پردګي ډيره زياته عامه شوي ده او كه څه لږ كمې پټكښې پاتي وو نو هغه ډِش اَينتِيِنا [او كيبل] پوره كړو. ټى وى زمونږه لونړو او ښځو ته نوي نوي ګنده ګنده فيشنونه زده كړل، زمونږه ځلمو ځامنو ته ئې د عِشق او فِسق [يعني ګناهونو] نه ډكې ډرامې اوښودلې او د جينكو په عِشق كښې ئې اونښلول او د هغوئي ژوند ئې تباه كړو او په هم دې چكّر كښې ئې زمونږ لونړه

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په دُرود لوستو خپل مجلِسونه ښکُلي کړئ ځکه چه ستاسو دُرُود لوستل به د قِيامت په ورځ ستاسو د پاره نُور وي. (فِردَوسُ الاَخبَار)

هم بربادې کړې، د ورو ورو ماشومانو ئې دا حال کړو چه هغوئي هم د سندرو او سازونو په اوازونو ښڼې تاوهي راتاوهي او ګډيږي. او اوس كه لږ كسر پاتي وو نو هغه انټرنيټ پوره كوي، مسلمانان په ډيره تيزئ د تباهئ جورې كندې ته غورزيږي، د اسلام دُښمنان زمونږه د تباه كولو پوره پوره كوشش كوي او هغوئي مسلمانانو ته د عيش و عِشرت دومره ډير عادت وركړو چه مَعَاذَالله عَزَّوَجَلَّ اوس مسلمانان د غير مسلمو محتاجه شوي دي. حالانكه يو مَدَني دور هغه هم وو چه صِرف ۳۱۳ مسلمانانو د بدر په ميدان كښې د فساديانو كافرو د زرو كسانو زبردست لښكر ته شكست وركړې وو او د هغوئي شان دا وو چه.

غلامانِ محمد جان دینے سے نہیں ڈرتے
یہ سر کٹ جائے یا رہ جائے وہ پروا نہیں کرتے

د شعر ترجمه: د خوږ آقا صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم غلامان د ځان قربانَوَلو نه نه يريږي، او د خپلو سرونو هيڅ پرواه نه لري.

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د خپلو ګناهونو نه په رښتياؤ توبه اوكړئ او دا وعده هم اوكړئ چه آينده به د ګناهونو نه ځان ساتو او نيك عمل به كوو. راځئ چه د توبه كولو د پاره په يَره د راپاخيدو فِكر جوړولو د پاره د يو څو ګناهونو عذابونه واورو:

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د هغه کس پوزه دِ په خاورو خړه شي چه د چا په مخکښ زما ذِکر اوشي او هغه په ما دُرُودِ پاك اونه لولي. (تِرمِذِی)

## خوفناكه كنده

په جَهَنَّم كښ يوه خوفناكه كنده ده چه د هغې د ګرمئ نه د جَهَنَّم نورې كندې پناه غواړي، "دا كنده د زناكارو، شرابيانو، سُود خوَرو، د دروغو ګواهي وركوونكو، د مور و پلار د نافرمانو او د بيلمانځو د پاره ده." (رُوحُ البيان ج٥ ص ٣٤٥)

## ګنجې ښامار

د **حضرتِ سَيِّدُنا ابوهُريره** رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه روايت دې چه د **رَسُولِ پاك** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عِبرت نه ډك فرمان دې: چا له چه **الله** عَزَّوَجَلَّ مال وركړو او هغه د هغې زكوٰة ادا نه كړو نو د قِيامَت په ورځ به د هغه مال د **ګنجې ښامار** په شكل جوړ كړې شي او په هغه **ښامار** به دوه داغونه وي (او دا د هغه د ډير زيات زهرژن كيدو نښه ده) او هغه **ښامار** به د هغه د غاړې طوق (يعني اميل) جوړ كړې شي او هغه به په خپلو جامنو [يعني په خُله] كښ هغه اونيسي او وائي به: زه يم ستا مال، ستا خزانه. (بُخاری ج١ ص ٤٧٤ حديث ١٤٠٣)

## د خلويښتو ورځو پورې نمونځ نه قبليږي

شراب **څښونكې** دِ په خلاصو غوږونو واوري او په لړزان دِ شي چه د **رسول الله** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عِبرَت ناك فرمان دې: څوك چه شراب اوڅښي د خلويښتو ورځو پورې به د هغه نمونځ نه قبليږي،

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د هغه کس پوزه دِ په خاورو خړه شي چه د چا په مخکښ زما ذِکر اوشي او هغه په ما درودِ پاك اونه لولي. (تِرمِذِی)

که هغه توبه اوکړه نو الله تعالٰی به د هغه توبه قبوله کړي، بيا ئې که دوباره شراب اوڅښل نو بيا به ئې د څلويښتو ورځو پورې نمونځ نه قبليږي، که هغه توبه اوکړه نو الله عَزَّوَجَلَّ به د هغه توبه قبوله کړي. بيا ئې که په دريم ځل شراب اوڅښل نو بيا به د څلويښتو ورځو پورې د هغه نمونځ نه قبليږي، که هغه توبه اوکړه نو الله عَزَّوَجَلَّ به د هغه توبه قبوله کړي. بيا که په څلورم ځل هغه شراب اوڅښل نو بيا به د څلويښتو ورځو پورې د هغه نمونځ نه قبليږي، اوس که هغه توبه اوکړه نو د هغه توبه به نه قبليږي او په هغه به ئې د نَهرِ خَبال (يعني د دوزخيانو د نَوُنو د درياب) نه څښبي. (ترمذی ج۳ ص۳۴۱ حديث ۱۸۶۹)

## د شِيرِخُدا رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ د شرابو نه نَفرت

اَمِيرُ الْمُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدُنا علي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ د شرابو نه خپل نفرت ښکاره کړو او اوئې فرمائيل: "که په يو کوهي کښ د شرابو يو څاڅکې پريوځي او د هغې [کوهي] د پاسه مَناره جوړه کړې شي نو زه به په هغه مناره اذان او نه کړم، که په يو درياب کښ د شرابو يو څاڅکې پريوځي، بيا هغه درياب وَچ شي او هلته واښه را اوخيږي نو په هغه وَښو کښ به زه خپل څاروي اونه څروم." (رُوحُ البيان ج۱۲ ص۳۴۰)

## د ظالِم مور و پلار هم فرمانبرداري

د مور و پلار نافرمانه دِ اوېريږي او توبه دِ اوکړي او د خپل مور و پلار نه دِ مُعافي اوغواړي او هغوئې دِ راضي کړي. ګني انجام به ئې

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې د دُرُود كثرت كوئ، څوك چه داسې كوې د قيامت په ورځ به زه د هغه شفاعت كونكې او ګواه جوړېږم.(شُعَبُ الاِيمان)

ښه نه وي. زمونږ د **خوږ خوږ پيغمبر** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مُبارك دې: چا چه په داسې حال كښې سحر كړو چه د خپل مور او پلار فرمانبرداره دې، د هغه د پاره د سحر نه د جنّت دوه دروازې بيرته [يعني خلاصې] شي او كه په مور او پلار كښې يو وي نو يوه دروازه بيرته كيږي. او چا چه په دې حال كښې ماښام كړو چه د مور او پلار په باره كښې د **الله** عَزَّوَجَلَّ نافرماني كوي د هغه د پاره د سحر نه د دوزخ دوه دروازې بيرته [يعني خلاصې] شي او (كه په مور او پلار كښې) يو وي نو يوه دروازه بيرته كيږي. يو كس عرض اوكړو: اګر كه مور او پلار په هغه ظلم اوكړي. اوئې فرمائيل: اګر كه ظلم اوكړي، اګر كه ظلم اوكړي، اګر كه ظلم اوكړي. (شُعَبُ الايمان ج٦ ص ٢٠٦ حديث ٧٩١٦)

## د وعده خلافئ وَبال

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! كه مور و پلار د شريعت خلاف حكم اوكړي نو په هغې كښې د هغوئې فرمانبرداري نه ده پكار. مَثَلاً كه د حرامې روزئ ګټلو يا د ګيرې خرئيلو حكم اوكړي نو دا خبرې به ئې نه منل شي، د ګناه په خبرو كښې **د مور و پلار فرمانبرداري كوونكې به ګنهګار او د جهنم حقدار وي.** څوك چه په خبره خبره وعده كوي خو بغير د شرعي عُذر نه ئې نه پوره كوي نو د هغوئې د پاره د غور مقام دې. چنانچه **د مدينې د سُلطان** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې په كثرت سره درود لولئ ځكه چه ستاسو دُرود په ما پيش كيږي. (طَبَرانِي)

عبرت نشان دي: "څوك چه د يو مسلمان سره وعده خلافي اوكړي په هغه باندې د الله تعالٰى او د ټولو فرښتو او د ټولو انسانانو لعنت دې او د هغه به نه فرض قبليږي او نه نفل." (بُخاری ج١ ص٦١٦ حديث ١٨٧٠)

## په خيټه كښې ماران

د حُضُورِ اَكرَم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مُبارَك دې: د مِعراج په شپه په ما باندې د يو داسې قوم خوا ته سيل اوكړې شو چه د هغوئي خيټې د كوټو په شان وې او هغه د مارانو نه ډكې وې او هغه د خيټو د بَهر نه ښكاريدل. ما تپوس اوكړو: اے جبرئيل دا خلق څوك دي؟ نو هغوئي اووئيل: "دا سود خواره دي." (اِبنِ ماجه ج٣ ص٧١ حديث ٢٢٧٣)

## د ٣٦ ځله زِنا نه بَد

د خوږ حبيب صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عِبرت نه ډك فرمان دې: د سُود يو درهم قصداً خوړل د شپږ ديرش ځله زِنا كولو نه هم زياته سخته او غټه ګناه ده. (سُنَن دارَ قُطنی ج٣ ص١٩ حديث ٢٨١٩)

## د جَهَنَّم سامان

د حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله اِبنِ مسعود رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ نه روايت دې: بنده چه كوم حرام مال اوګټي كه خرچ كوي ئې نو په هغې كښې به بَرَكت نه وي او كه صدقه ئې كړي نو هغه به نه قبليږي او كه

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د هغه كس پوزه دِ په خاورو خړه شي چه د چا په مخكښ زما ذِكر اوشي او هغه په ما درودِ پاك او نه لولي. (تِرمِذِی)

هغه په ځان پسې پريږدي او مړ شي نو هغه به د هغه د پاره د **جَهَنَّم** **توښه** جوړه شي. (مُسندِ اِمام احمد ج٢ ص ٣٤ حديث ٣٦٧٢)

د **سُود** د تباهيانو نه د خبرېدلو او په تجارت وغيره كښ د هغې نه د بچ كيدو د طريقو زده كولو د پاره د مكتبةُ المَدينه چاپ شوي د ٩٢ صفحو رساله ''سوداوراس کاعلاج'' ضرور اولولئ اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ ستركې به مو اوغړيږي.

# د سُنَّتو سپرلي

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! په هوش كښ راشئ! د غفلت نه رابيدار شئ! فوراً د ګناهونو نه توبه اوكړئ، د فِرنګيانو د رسم و رواج نه ځان خلاص كړئ، د خوږ خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خوږو خوږو سُنَّتو عمل كول اختيار كړئ، د خپل ځان د اِصلاح سره سره د نورو خلقو د اصلاح د كوشش فِكر هم كوئ، په ځان كښ د نيكئ د دعوت جذبه راپيدا كړئ، د سُنَّتو ژوندي كولو د پاره د ځان و مال او د وخت د قربانئ وركولو جذبه زياته كړئ او نِيَّت اوكړئ چه **ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اصلاح كوشش كول دي.** (اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ) د خپل ځان د اصلاح د كوشش كولو د پاره په **مَدَني اِنعاماتو** باندې عمل او د ټولې دُنيا د خلقو د اصلاح كوشش كولو د پاره په

**مَدَني قافلو** كښې سفر كول دي. هر زيارت د ماښام د نمانځه نه پس ستاسو په ځائ كښې كيدونكي د **دعوتِ اِسلامي** د سُنَّتو نه ډكه هفته واره اجتِماع كښې د رِضائے اِلٰهي د پاره د ښو ښو نِيَّتونو سره ټوله شپه تيروئ ۞ د سُنَّتو د تربِيَّت د پاره په **مَدَني قافِلو** كښې د عاشِقانِ رسُول سره هره مياشت د دري ورځو سفر او ۞ هره ورځ د "**فِكرِ مَدِينه**" په ذرِيعه د **مَدَني اِنعاماتو** رِساله ډكوئ او د هرې مَدَني مياشتې په يكم تاريخ ئې د خپل ځائ ذِمَّه دار ته د جَمع كولو معمول جوړ كړئ. اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ د دې په بَرَكت به د سُنّتو د پابند جوړيدو، د ګناهونو نه د نفرت كولو او د اِيمان د حِفاظت د پاره د فِكر كولو ذِهن جوړيږي.

**زما مَدَني مقصد:** "**ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اِصلاح كوشش كول دي.**" اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ

**خوږ،وخوږ،و اسلامى ورونړو!** د بيان په آخِره كښې د **سُنَّتو** فضيلت او يو څو سُنَّتونه او آداب د بيانولو سعادت حاصلووم. د **تاجدارِرِسالت** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مُبارَك دې: چا چه زما د سنّت سره **مُحَبَّت** اوكړو هغه زما سره **مُحَبَّت** اوكړو او چا چه زما سره **مُحَبَّت** اوكړو هغه به په جَنَّت كښې زما سره وي. (ابنِ عساكر ج۹ ص۳۴۳)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما دُرُود پاک لوستل هیر کړل هغه دَ جنّت لاره هیره کړه. (طَبَرَانِي)

# د قبر او د خخولو 22 مَدَني ګلونه

❁ د الله عَزَّوَجَلَّ فرمان دې:

اَلَمْ نَجْعَلِ الْاَرْضَ كِفَاتًا ﴿۲۵﴾ اَحْیَآءً وَّ اَمْوَاتًا ﴿۲۶﴾

مفهوم ترجمهٔ کنزُ الایمان: آیا مونږه زمکه جمع کوونکې نه ده ګرځولې، ستاسو د ژوندو او د مړو [د پاره].

د دې آیتِ مُبارکه نه لاندې په ''نُورُ العِرفان'' صفحه ۹۲۷ کښې دي: ''داسې چه ژوندي د زمکې په شا او مَړي د زمکې په خیټه کښې جمع دي.'' ❁ مَړې خخول فرضِ کِفایه دي (یعني که یو کس هم خخ کړو نو ټول د ذِمَّه وارئ نه خلاص شو، ګني چا چا ته چه خبر رسیدلې وو او خخ ئې نه کړو [نو ټول] ګنهګار شو) دا جائز نه دي چه مَړې په زمکه کیښودې شي او د څلور وارو طرفو نه ورته دیوال اووهلې شي او بند کړې شي. (بهارِ شریعت جلد اوّل ص ۸۴۲) ❁ قبرونه هم د الله تَعالٰی نِعمَت دي ځکه چه په دې کښې مَړي خخیږي، د پاره د دې چه ځناور او نور څیزونه د هغه توهین [یعني بې ادبي] اونه کړي ❁ د صالحینو (یعني نیکو بندګانو) خوا ته خخول پکار دي ځکه چه د هغوئي د نِزدې والي بَرَکت به ورته حاصِل وي که مَعاذَ الله عَزَّوَجَلَّ د عذاب حقدار هم وي نو هغوئي به ئې شفاعت کوي، هغه رَحمَت چه په هغوئي وریږي، دې [مَړي] ته هم رارسي. په حدیثِ پاك کښې دي: نَبِیِ کریم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي:

فرمانِ مُصطَفٰےﷺ: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک او نه لوستو تحقيق هغه بدبخته شو. (اِبنِ سَنّی)

”خپل مَړي د ښو خلقو سره [يعني خوا ته] خخ کړئ“. (حلية الاولياء ج٦ ص ٣٩٠ رقم ٩٠٤٢) (فتاوٰی رضويه ج٩ ص ٣٨٥) ۞ د شپې په خخولو کښې هيڅ باك نشته. (جوهره ص ١٤١) ۞ په يو قبر کښې د يو نه زيات بې ضرورته خخول جائز نه دي او که ضرورت وي نو دفن کولې ئې شئ. (بهارِ شريعت جلد اوّل ص ٨٤٦، عالمگيری ج١ ص ١٦٦) ۞ جنازه د قبر نه قبلې طرف ته ايښودل مُستَحب دي چه مَړې د قِبلې د طرف نه قبر ته کوز کړې شي. [مَړې] د قبر کُوز سر ته داسې مه کړدئ چه [قبر ته کوزولو کښې د هغه] سر ورمخکښې کړې شي. (بهارِ شريعت جلد اوّل ص ٨٤٤) ۞ د ضرورت مطابق دوه يا درې او بهتره دا ده چه طاقتور او نيك سړې دِ قبر ته کوز شي. زنانه مَړې دِ د هغې محارِم کوز کړي که دا نه وي نو نور خپلوان، که دا نه وي نو پرهيزګاران دِ ئې کوز کړي. (عالمگيری ج١ ص ١٦٦) ۞ زنانه مَړې د کوزولو نه واخله د سِل [يعني په لحد باندې د خزو، تيرو] لګولو پورې په څه کپړه پټ ساتئ ۞ قبر ته د کوزولو په وخت کښې دا دُعا لولئ: بِسْمِ اللّٰهِ وَبِاللّٰهِ وَعَلٰى مِلَّةِ رَسُوْلِ اللّٰه (تنويرُ الابصار ج٣ ص ١٦٦) ۞ مَړې په ښي ډډه څملوئ او مخ ئې قِبلې طرف ته کړئ او د کفن غوټې پرانيزئ ځکه چه اوس [د تړلو] ضرورت نشته، که نه ئې پرانيزئ نو هم باك نشته. (عالمگيری ج١ ص ١٦٦ جوهره ص ١٤٠) ۞ د کفن غوټې پرانِستو والا دِ دا دُعا لولي: اَللّٰهُمَّ لَا تَحْرِمْنَا اَجْرَهٗ وَلَا تَفْتِنَّا بَعْدَهٗ. (حاشية الطحطاوی علی مراقی الفلاح ص ٦٠٩) ترجمه: اے الله

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې د دُرود شريف كثرت كوئ بيشكه دا ستاسو د پاره پاكي ده. (اَبُو يَعلٰی)

عَزَّوَجَلَّ! مونږه د ده د اجر نه محروم نه كړې او مونږه د ده نه پس په فتنه كښې اخته نه كړې ۞ قبر په كچه خختو بند كړئ (په قبر كښې دننه په اور پخې شوې خختې لګول منع دي خو اكثر د سيمنټي ديوال او د سيمنټي تختو لګولو رواج دې لِهٰذا د سيمنټي ديوال او د سيمنټي تختو دننه حصه په ختو ليو كړئ. الله عَزَّوَجَلَّ دِ مسلمانان د اور د اثر نه محفوظه اوساتي. اٰمين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمين صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) كه زمكه نرمه وي نو د لركې تختې لګول هم جائز دي. (بهارِشريعت ج۱ص۸٤٤) ۞ اوس پرې خاورې واړوئ، مُستَحب دا دي چه د سر د طرف نه په دواړه لاسو درې ځله خاوره واچولې شي، په اولني ځل اووائې مِنْهَا خَلَقْنٰكُمْ (ترجمه: مونږه هُم د زمكې نه تاسو پيدا كړي ئې) په دويم ځل وَفِيْهَا نُعِيْدُكُمْ (ترجمه: او هم دې ته به تاسو بيا بوځو) او په دريم ځل وَمِنْهَا نُخْرِجُكُمْ تَارَةً اُخْرٰى (ترجمه: او د هم دې نه به تاسو بيا را اوباسو) اولولئ بيا نوره خاوره په بيلچه وغيره ور واچوئ. (جوهره ص۱٤۱) ۞ خومره خاوره چه د قبر نه راوتلې وي د هغې نه زياته [خاوره] پرې اچول مكروه دي. (عالمګيرى ج۱ص۱٦٦) ۞ په لاسونو پورې مو چه كومه خاوره نښتې وي هغه اوڅنډئ يا ئې اووينځئ، د دې اختيار دې. (بهارِشريعت ج۱ص۸٤٥) ۞ قبر څلور كوټه مه جوړوئ بلكه هغه د زوَرې په شان جوړ كړئ لكه د اوښ د كوپان په شان، (د خخولو نه پس) په قبر اوبه شيندل بهتر دي، قبر يو لويشت اوچت پكار دې يا لږ زيات،

فرمَانِ مُصطَفےٰ صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: كوم خلق چه د خپل مجلِس نه د الله عَزَّوَجَلَّ د ذِكر او په نبي باندې د درود شريف لوستلو نه بغير پاځيدل نو هغه د بدبوداره مُردار نه پا څيدل. (شُعَبُ الاِيمان)

(بهارِ شريعت ج١ ص٨٤٦ مُلَخَّصاً، عالمگيرى ج١ ص١٦٦، ردُّالمُحتار ج٣ ص١٦٨) د خخولو د قبر خوا ته اذان كول د ثواب كار دې او د مَړي د پاره ډير زيات فائِده مند دې. (ماخوذ از فتاوٰى رضويه مُخرجه ج٥ ص٣٧٠) ۞ مُستَحب دا دي چه د خخولو نه پس د قبر خوا ته د سُوْرۃُ بَقَرہ اول او آخِر اولولئ، د سر طرف ته د الٓمّٓ نه د مُفْلِحُوْن پورې او د ښپو طرف ته د اٰمَنَ الرَّسُوْلُ نه د سورت د ختميدو پورې اولولئ. (بهارِ شريعت ج١ ص٨٤٦) ۞ د دفن كولو نه پس د قبر خوا ته د دومره وخته پورې حصاريدل مُستَحَب دي په څومره وخت كښې چه اوښ حلال كړې شي او غوښه ئې تقسيم كړې شي، ځكه چه د خلقو د موجودګئ په وجه به د مَړي زړه په قلاره وي او د مُنكَرنكير په جواب وركولو كښې به نه يريږي او د دومره وخته پورې د قرآنِ مجيد تِلاوَت او د مَړي د پاره دُعا او استِغفار كوئ او دا دُعا غواړئ چه د مُنكَرنَكِير د سوالونو په جوابونو كښې ورته ثابِت قدمي نصيب شي. (ايضاً) ۞ شجره يا عَهْدنامه په قبر كښې ايښودل جائز دي او بهتره دا ده چه د مَړي مخې ته د قبلې طرف ته طاق [يعني تاخ] اوكنستې شي او په هغې كښې كيښودې شي، بلكه په "دُرِّ مُختار" كښې په كفن باندې عهد نامه ليكلو ته جائز وئيلې شوې دي او فرمائيلې ئې دي چه د دې په وجه د بخښنې اُميد دې او د مړي په سينه او تندي باندې بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم ليكل هم جائز دي. يو كس د دې

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک اونه لوستو هغه په خلقو کښې ډير زيات کنجُوس(يعني شوم) دې. (اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب)

وصيت کړې وو، د مرګ نه پس د هغه په سينه او تندي باندې لَآاِلٰهَ اِلَّااللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ اوليکلې شوه بيا چا په خوب کښې اوليدو، تپوس ئې ترې اوکړو، اوئې وئيل: چه کله په قبر کښې کيښودې شوم نو د عذاب فرښتې راغلې، فرښتو چه کله زما په تندي بِسۡمِ اللّٰهِ شريف اوليدله نو اوئې وئيل: ته د عذاب نه بچ شوې. (درمختار، غُنيه، عن التاتار خانيه) داسې هم کيدې شي چه په تندي ورته بِسۡمِ اللّٰهِ شريف اوليکئ او په سينه ورته کَلِمهٔ طيِّبه لَآاِلٰهَ اِلَّااللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ، خو د غُسل ورکولو نه پس او د کفن وراغوستلو نه مخکښې ئې د شهادت په ګوته اوليکئ په سياهئ ئې مه ليکئ. (بهارِ شريعت ج۱ ص۸۴۸، رَدُّالمُحتار ج۳ ص۱۸۶) ۞ که د قبر نه د مَړي هډوکې بهر پراته وي نو هغه خخول کول واجِب دي.

(ماخوذ از فتاوٰی رضويه ج۹ ص۴۰۶)

په زرګاؤ سنّتونه زده کولو د پاره د مَکْتَبَةُ الْمَدِيْنَه دوه کتابونه (۱) د ۳۱۲ صفحو کتاب ”بهارِ شريعت“ حصّه ۱۶ او (۲) د ۱۲۰ صفحو کتاب ”سنّتيں اور آداب“ هديه کړئ او اولولئ. د سنّتو د تربِيَّت يوه غوره ذريعه د دعوتِ اسلامي په مَدَني قافِلو کښې د عاشِقانِ رسول سره د سنّتو نه ډک سفر هم دې.

لوٹنے رحمتيں قافلے ميں چلو　　سيکھنے سنّتيں قافلے ميں چلو
ہوں گی حل مشکليں قافلے ميں چلو　　ختم ہوں شامتيں قافلے ميں چلو

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په کتاب کښ په ما باندې درود پاك اوليکلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې کښ وي فرښتې به د هغه د پاره بخښنه غواړي. (طَبَرَاني)

د شعر ترجمه: د رحمتونو کټهلو او د سنّتو زده کولو د پاره په قافلو کښ لا ړشئ،
مشکلات به مو حل شي او مصيبتونه به مو ختم شي په قافلو کښ لا ړشئ

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ماخذ ومراجع

| کتاب | مطبوعه | کتاب | مطبوعه |
|---|---|---|---|
| قراٰنِ مجيد | | احياء العلوم | دار صادر بيروت |
| روح البيان | داراحياءالتراث العربى بيروت | التذكرة | دار السلام مصر |
| بخارى | دار الكتب العلمية بيروت | الروض الفائق | كوئٹه |
| ترمذى | دار الفكر بيروت | شرح الصدور | مركز اہلسنت بركات رضا الهند |
| ابن ماجه | دار المعرفة بيروت | عيون الحكايات | دار الكتب العلمية بيروت |
| مسند امام احمد | دار الفكر بيروت | تنوير الابصار | دار المعرفة بيروت |
| شعب الايمان | دار الكتب العلمية بيروت | رد المحتار | دار المعرفة بيروت |
| سنن دار قطنى | موسوعة الرسالة بيروت | جوہره | باب المدينه كراچى |
| موسوعة ابن ابى الدنيا | دار الكتب العلمية بيروت | عالمگيرى | دار الفكر بيروت |
| الفردوس بمأثور الخطاب | دار الكتب العلمية بيروت | حاشية الطحطاوى | باب المدينه كراچى |
| حلية الاولياء | دار الكتب العلمية بيروت | فتاوٰى رضويه | رضا فاؤنڈيشن لاہور |
| ابن عساكر | دار الفكر بيروت | بہارِ شريعت | مكتبة المدينه باب المدينه كراچى |

## فهرست


| عنوان | نمبر |
|---|---|
| دَ دُرُودشريف فضيلت | 1 |
| مَړي او غُسل ورکوونکي | 1 |
| مَړي څه وائي؟ | 2 |
| د ټول عمر منده تړره | 3 |
| د قبر زړه درزوُونکي قِصَّه | 4 |
| شاهي مرګ | 7 |
| بادشاهي په کار رانغله | 8 |

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د هغه کس پوزه دِ په خاورو خړه شي چه د چا په مخکښ زما ذِکر اوشي او هغه په ما درودِ پاك اونه لولي. (تِرمِذِی)


| | |
|---|---|
| دُنيا ته د راتلو مقصد | 8 |
| وزارتونه به په کار رانه شي | 10 |
| څلور بې بُنياده دعوې | 11 |
| اولنۍ دعوٰی "زه د الله (عَزَّوَجَلَّ) بنده يم" | 12 |
| دويمه دعوٰی " هُم الله تَعالٰی رِزق ورکوونکې دې" | 12 |
| دريمه دعوٰی "د دُنيا نه آخِرت غوره دې" | 13 |
| څلورمه دعوٰی "يوه ورځ به مړه کيږو" | 13 |
| د جنازې اِعلان | 14 |
| د مړو سره خبرې | 15 |
| د ټی وی اخستو په وجه په مَړي د قبر عذاب | 16 |
| د آقا ﷺ زيرې | 18 |
| بَهانې مه کوئ | 19 |
| خوفناکه کنده | 22 |
| ګنجې بناما ر | 22 |
| د څلويښتو ورځو پورې نمونځ نه قبليږي | 22 |
| د شِيرِخُدا رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ د شرابو نه نَفرت | 23 |
| د ظالِم مور و پلار هم فرمانبرداري | 23 |
| د وعده خلافۍ وَبال | 24 |
| په خيټه کښې ماران | 25 |
| د ۳٦ ځله زِنا نه بَد | 25 |
| د جَهَنَّم سامان | 25 |
| د سُنَّتو سپرلي | 26 |
| د قبر او د خخولو 22 مَدَني ګلونه | 28 |

الموت الموت الموت الموت الموت

# د نزع د سختۍ عِلاج

حضرتِ سیِّدَتُنا عائِشه صِدِّیقه رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہَا ته یو ې ښځې دخپل نزع د سختۍ په باره کښې شکايت اوکړو نو هغې اوفرمائيل: ''مرګ زيات يادوه په دې به ستا نزع نرم شي'' هغه ښځې هُم داسې اوکړو نو د نزع سختي ئې ختمه شوه، بيا هغې د حضرتِ سیِّدَتُنا عائِشه صِدِّیقه رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہَا شُکريه ادا کړه.

(اِحياءُ الْعُلوم ج۵ ص۴۸۰ مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه)

www.dawateislami.net

MAKTABA TUL MADINAH
MC 1286

فيضانِ مدينه محلّه سوداګران زوړه سبزي منډۍ، بابُ المدينه (کراچۍ)

UAN: +92 111 25 26 92 Ext: 1262

Web: www.dawateislami.net / E-mail: translation@dawateislami.net